هاشم مهمند
۲۰۲۱/۰۲/۱۳

# ليبراليزم او نشنليزم
# دواړه د نن عصر مهمې ايډيولوژی دي

*د « ليبراليزم او نشنليزم جدال» تر سرليک لاندې زما د يوې ليکنې په اړه ډاکټر صاحب اکبر يوسفي په ډير تفصيل په همدغه معتبر ويبسايت (آريانا افغانستان) کې، بې له دې چه زما نوم ياد کړي، خپل ملاحظات نشر کړي دي چه زه يې ډېر منندوی يم. دا يادونه هم لازمه ده چه زه د ډاکټر صاحب يوهي او شخصيت ته ډير احترام لرم. دی د کندهار د احمدشاه بابا ليسې په يوولسم ټولګي کې د يو لنډ وخت لپاره زموږ د رياضی او فزيک استاد و. وروسته زه او دی دواړه د تحصيل په دوره کې د آلمان د بن په ښار کې اوسيدلو او کله ـ کله به مو له يو بل سره کتل.*

*په دې ليکنه کې هم د ښاغلي يوسفي ملاحظاتو ته تر يو حده ځوابونه ويل شوي او هم د ليبراليزم او نشنليزم پر مفاهيمو نوره رڼا اچول شوي ده.*

په هر حال داسي ښکاري چه ډاکټر صاحب زما د ليکني په لوستلو په قهر او غضب راغلی او د آينشتاين د خو مقولو په ذکر کولو يې، د ده په قول، ځان ته آرامش بخښلی دی. يوه مقوله وايي «انساني حماقت او کاينات حد اوحصر نه پيژني» يا دا چه «د فراست قابليت په تغيير کي معلوميږي» او بيا وايي «هغه څه چه بې بيه وي، هيڅ ارزش نه لري» او داسي نور. خو زه چه نن سبا مريض هم يم له يوسفي صاحب سره نه د پوليميک کولو اراده لرم او نه هم حوصله ، خو يو څه توضيحات لازمي بولم.

يو زيات شمير افغانان هر څه ته د تور اوسپين په شکل ګوري، په داسي حال کي چه د تور او سپين ترمنځ ډېرې نور سيوري هم شته. که د يو نظر يا فکر سره موافق واوسو بيا په ډېر افراط له هغه فکر څخه دفاع کوو او که موافق نه وو، بيا اوروته پاشو او په ډېر شدت او عصبانيت هغه غندو.

زمونږ د ډېرو په فکري جوړښت کي د اعتدال نشتوالی د ذهني يا انفسي (Subjective) قضاوتونو مبدا او منشاء جوړوي او د عيني يا (Objective) استدلال او قضاوت توان له لاسه ورکوو. همدا چلند له سياسي، اجتماعي او علمي مفاهيمو سره هم کيږي. د هر فکر يا مفهوم منفي اړخ ته کتل، د ځينو مفاهيمو په هکله په افراط بدبيني او شک درلودل او د هغو وجودي فلسفه تر پوښتني لاندي راوستل، د اجتماعي او سياسي ژوند بنيادي اساسات ردول په حقيقت کي يو نيهيلستي (Nihilistic) چلند دی، څه هيڅ ځای ته مو نه رسوي.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

زموږ د ځینو افغانانو بله لویه ستونزه په تفاهم کولو کې ده، یعني د مقابل لوري خبرو یا لیکني ته بشپړ دقت نه کوو، چه په مفهوم او محتوا (Context) یې ځان پوه کړو، بلکې همدومره اورو یا لولو، چه ځواب ورکړو یعني په اصطلاح د بحث په موضوع سر نه خلاسوو او بیا بې خلطې فیرونه کوو.

یوسفي صاحب زما د لیکني د مقدمې پر لومړۍ جملې چه ګواکې«د پخواني شوروي اتحاد سقوط په اروپا او امریکا کې د لیبرالو ډموکراسیو یو مهم بریالیتوب وګڼل شو...» انتقاد لري او هغه یو ذهني حکم او نتیجه ګیري بولي.

فکر کوم دا هیڅ توضیح ته اړتیا نه لري چه د پخواني شوروي اتحاد تر سقوط د مخه امریکا او شوروي د نړۍ دوه ستر اقتصادي، سیاسي او نظامي قدرتونه وو، چه تر دوهمې نړیوالې جګړې وروسته یې په نړۍ کې د خپل نفوذ او قدرت د خپرولو او زیاتولو لپاره یو له بل سره رقابت کاوه، چه د سړې جګړې د کلونو په نامه یادېږي.

د تېرې پېړۍ په نویمه لسیزه کې شوروي اتحاد په پنځلسو جمهوریتونو وویشل شو، د وارسا نظامي تړون چه د غرب لپاره یو ګواښ و له منځ لاړ، د برلین دېوال و نړېد او د شرقي اروپا هېوادونه چه د شوروي اقمار بلل کېدل د ناټو او اروپایي اتحادیې غړي شول. دا د غربي هېوادونو د هیلو او آرزوګانو انتها وه چه تر لاسه شول.

اوس نو که یوسفي صاحب د داسې یو لوی رقیب زوال د لیبرال ډیموکراسیو بریالیتوب نه بولي او هغه زما ذهني یا (Subjective) حکم او نتیجه ګیري ګڼي، نو زه به څه ووایم.

ډاکتر صاحب د خپلې لیکني په بل ځای کې وایي چه «د شوروي اتحاد سقوط باید اول د هغو خلکو د نظریو او د دوی د معلوماتو پر اساس و څېړل شي او دقیق وښودل سي، چه د هغه سیستم سقوط څنګه لیبرالانو ته کوم بریالیتوب په برخه کړی دی.»

د ښاغلي یوسفي صاحب دا غوښتنه چه د شوروي اتحاد د سقوط عوامل څه و او دا چه غربي هېوادونو په مشخصه توګه کومې ګټې او امتیازات تر لاسه کړل، زما د لیکني موضوع نه ده. یوسفي صاحب د یو تکره او په هرڅه پوه لیکوال په توګه، کولای شي په دې اړه څېړنه وکړي او یو څه ولیکي چه موږ هم ورڅخه مستفید شو.

زما د لیکني موضوع په مشخصه توګه په امریکا او نورو لیبرالو ډیموکراسیو کې د لیبرالیزم او نشنلیزم د نظریو د پلویانو ترمنځ د اختلافونو او مشترکاتو پر څرنګوالي راڅرخي. په دې لیکنه کې د هرې نظریې پر فکري اصولو او ارزښتونو، منځپانګو، یو له بله توپیر او پر متقابلو تاثیراتو په تفصیل بحث شوی او روښانه شوې ده چه لیبرالیزم او نشنلیزم دوې متفاوتې او متمایزې ایډیولوژۍ ګڼل کېږي.

لیبرالیزم پر خپل اصلي منځپانګه چه فردیت دی، تاکید کوي او د خپل ماهیت له مخې د ټولنې د افرادو پر نه بېلېدونکي او نه سلب کېدونکو حقوقو ټینګار کوي او په دې توګه یوه جهان شموله ایډیولوژي ده. برعکس نشنلزم نسبت فرد ته، ټولنې ته اهمیت ورکوي او په ټوله کې یوه خاصه او ځانګړې ایډیولوژي ده. دا دوه «ایزمونه» په ځینو برخو کې یو له بله همږغي او سازګاري لري. خو د نشنلیستانو په باور په لیبرالیزم کې د هغه د کثرت ګرایي یا پلورالستي اړخ، په اولس کې د ملي هویت او ملي پیوستون احساس ضعیفه کوي.

د ډاکتر صاحب یوسفي د ادعا خلاف، زما لیکنه نه د سیستمونو د مقایسې او نه هم د ډیموکراسۍ د ډولونو په باره کې ده او نه هم ادعا شوې چه ډیموکراسي د لیبرالانو په انحصار کې ده. خو نن ورځ لیبراله ډیموکراسي تر هر بل وخت ډېره منل شوې او پیاوړې نظام دی چه د ډېرو په باور بدیل نه لري. چرچیل هم ویل چه ډیموکراسي (مقصد یې لیبرال ډیموکراسي وه) یو بد نظام دی، خو تر دې بهتر نظام نه شته.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

لیبرال ډیموکراسي چه همدا غربي ډیموکراسي ته ویل کیږي، یوه سیاسي ایډیولوژي او د حکومت یو شکل دی چه په هغه کي نماینده ډیموکراسي (Repesentative Democracy) د لیبرالیزم د اصولو په چوکات کي فعالیت کوي.

د دې نظام په مشخصاتو کي په آزادو انتخاباتو کي د بېلابېلو سیاسي ګوندونو ګډون، د دولت د څانګو تر منځ د قواوو تفکیک، د یوې سرخلاسي ټولني په ورځني ژوند کي د قانون حاکمیت، د بازار اقتصاد، شخصي ملکیت او د خلکو د بشري حقوقو، مدني حقوقو او مدني او سیاسی آزادیو دفاع شامل دي.

لیبرال ډموکراتیک نظام په عمل کي پر اساسي قانون اتکا لري، چه په هغه کي د دولت د بېلابېلو څانګو صلاحیتونه په روښانه توګه تشریح شوي دي. په دې نظام کي د قانون دولت یا (Rechtsstaat) پر اهمیت ټینګار کیږي چه مقصد یي د قانون د حاکمیت له اصل څخه پیروي کول دي.

په همداسي لیبرال دیموکراتیک نظام کي سیاسی ګوندونه چه هر یو یي خپله ایډیولوژي او خپل مرام او آجنډا لري، ټول اساسي قانون ته ژمن او وفاداره دي او قدرت ته د رسېدو لپاره په آزادو او عادلانه انتخاباتو کي ګډون کوي. اولس هم پرته له هر ډول قومي، جنسیتي، دیني او نورو توپیرونو څخه خپل د خوښي کاندیدانو ته رایه ورکوي.

د لیبرالیزم نهضت په اروپا کي د روشنګری (Enlightenment) په دوره کي د یوې اخلاقي فلسفي په توګه د ۱۶۸۵-۱۷۳۰ م کلونو تر منځ د هغه عصر د فیلسوفانو او متفکرانو لکه توماس هابس، جان لاک، مونتیسکو، ژان ژاک روسو، ولتیر او نورو له خوا د خپل وخت د استبدادي او مطلقه نظامونو او په ټولنه کي د موجودو بيعدالتیو په مقابل کي پیل شو، چه د میراثي امتیازاتو، دولتي یا رسمي دین، مطلقه پاچاهي نظام، د پاچاهانو د الهي حقوقو او حاکم محافظه کار نظام د له منځه وړلو لپاره یي هلي ځلي پیل کړي او پر ځای یي د نماینده ډیموکراسی او د قانون د حاکمیت غوښتني مطرح کړي.

په ۱۶۸۸ م کال کي د انګلستان د انقلاب، په ۱۷۷۶ م کال کي د امریکا د انقلاب او په ۱۷۸۹م کال کي د فرانسي د انقلاب مشرانو د همدې لیبرال فلسفي په پیروی د مطلقه سلطنتي نظام د ظلم او استبداد ماتی نسکوري کړې. د فرانسي له انقلاب څخه په الهام په نولسمه پېړی کي په نورو اروپایي او د جنوبي امریکا په هېوادونو کي هم لیبرال حکومتونه منځته راغلل.

د اساسي قانون له مخي لیبرال ډیموکراسی بېلابېل ډولونه غوره کولای شي، لکه په انګلستان، هالیند، ناروې جاپان او نورو کي چه مشروطه شاهي نظام ټینګ دی. په نورو هېوادونو لکه د امریکا په متحدو ایالاتو، جرمني، فرانسه، هندوستان او نورو کي بیا د جمهوري نظام په بنه دي. همدا شان ځیني هېوادونه لکه آسترالیا، کاناډا، جرمني، هندوستان او اسراییل پارلماني سیستمونه لري او ځیني نورو بیا لکه متحدو ایالات او جنوبي کوریا بیا ریاستي سیستمونه غوره کړي دي.

په شلمه پېړی کي په اروپا او شمالي امریکا کي د اجتماعي لیبرالیزم (Social liberalism) نظریه منځ ته راغله. د دې نظریي هدف، چه په امریکا کي په ساده توګه لیبرالیزم یادېږي، په ټولنه کي د اجتماعي رفاه د پروګرامونو منځ ته راوړل او پیاوړي کول دي. یعني داسي یو سیستم چه د هغه په چوکاټ کي دولت خپلو اتباعو ته د ناروغی، بېکاری او یا تقاعد په وخت کي لازمي مرستي رسوي او هغو کسانو ته چه له مالي ستونزو سره مخامخ وي د بانکي پورونو د ورکولو له لارې آسانتیاوې برابروي. په جرمني کي دغه ډول د اجتماعي مرستو ادارې ته د سوسیال اداره وایي او ډېر افغان او نور پناه غوښتونکي هم د همدې ادارې له لارې مالي او نورې مرستي ترلاسه کوي.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

په انساني ټولنو کې ټول خلک په یوه فکر نه وي او د بېلابېلو نظریاتو او ایډیولوژۍ ګانو تر تاثیر لاندې ژوند کوي. نن داسي یو هېواد هېڅ نه شته څه ټول خلک یې له یوه توکم او قوم څخه وي، په یوه واحده ژبه خبرې وکړي یا د یوې واحدې ایډیولوژۍ، دین یا فرهنګ پلوي وي. له بلې خوا د خلکو په اقتصادي ژوند کې د لویو توپیرونو موجودیت د اجتماعي تضاد د رابرسېره کېدلو په معنی ده چه یوه طبیعي پدیده ګڼل کېږي او خاصې اجتماعي ډلې خپلو غوښتنو او خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره خپل سیاسي سازمانونه یا ګوندونه تشکیلوي او د سیاسي مبارزو لار غوره کوي. ځیني ډلې بیا بې له دې چه په کوم خاص ګوند اړه ولري د خپلو مدني حقوقو د ترلاسه کولو په مقصد اعتراضي غونډې کوي او خپلې غوښتنې مطرح کوي لکه په امریکا کې د تورپوستانو د مدني حقوقو نهضت یا د ښځو اجتماعي نهضتونه چه نن سبا په امریکا او اروپا کې د خپلو حقوقو لپاره مبارزه کوي.

هغه نظامونه څه واک د یوه واحد ګوند یا د خاصې ایډیولوژۍ د پلویانو په لاس کې دي لکه چین، ایران، یا شمالي کوریا اولسونه یې له اساسي مدني حقوقو او آزادیو څخه بې برخې دي او مستبد یا (Authoritative) نظامونه بلل کېږي، برعکس په لیبرال ډیموکراسیو کې اساسي قانون د خلکو د بیان د آزادۍ، د اجتماعاتو د جوړولو، د سوله ییز اعتراض کولو او په ټولنیز- سیاسي ژوند کې د مشارکت د حقوقو ضمانت کوي. په دې ټولنو کې د بېلابېلو ګوندونو او سیاسي سازمانونو د موجودیت او فعالیت په خاطر دوی ته د پلورالستي ټولنو خطاب کېږي.

ډاکتر صاحب یوسفي نشنلیزم یوازې د پاپولیزم، راسیزم او نژادي تبعیض مترادف بولي.

ما د خپلې لیکنې په پیل کې په وروستیو کلونو کې په اروپا او امریکا کې د افراطي یا رادیکال نشنلیستي او پاپولیستي ډلو د منځ ته راتلو پر عواملو، د دې ډلو پر ذهنیت او د حاکمې طبقې یا اسټبلشمنټ (Establishment) پر ضد د دې ډلو د مبارزې او غوښتنو په هکله لازم توضیحات ورکړي دي، چه تکرار ته یې اړتیا نه وینم، خو نشنلیزم د یوې مفکورې پر اساس په ټولو ټولنو او حتی ایډیولوژیکانو کې هم وجود لري. په امریکا کې نشنلیزم ته حتی د یوې پیاوړې سیاسي ایډیولوژۍ په سترګه کتل کېږي.

د نشنلیزم د مفکورې پر اساس انسانان اجتماعي موجودات دي، چه په اجتماعاتو کې زېږي او په همدې ټولنیزو ډلو کې کار او فعالیت کوي چه همدا ټولنې د دوی هویت جوړوي او همدې ټولنو ته وفاداره پاته کېږي. د اجتماعي ډلې عالیترینه مرحله په معاصره نړۍ کې ملت یا نیشن (Nation) دی او څلور ځانګړې خصوصیات لري.

- لومړی: په یوه ملت کې د هغه ټول غړي د یووالي احساس لري، یعني د ملت تقریباً ټول غړي دا پیاوړی احساس لري، چه د یوې لویې ټولنې غړي دي، په دې معنی چې د خلکو ترمنځ یوه مشترکه او پیاوړې اړیکه موجوده ده.
- دوهم: هر ملت خپل ځانګړی تاریخ، کلچر، ژبې، دین او افتخارات لري، یعني داسې ګډ عقاید، سلوک او کردار چه د ټولو وګړو ترمنځ مشترک وي او همدا ټکي اولس له نورو اولسونو څخه جلا کوي.
- دریم: د خاورې یا سیمې د تقدس فکر دی. ملتونه له خپلې خاورې یا جغرافیې سره نه بېلېدونکې، خاصه او ژوره اړیکه لري او خپله سیمه یا جغرافیه خپل «وطن» بولي. دغه سیمه یا وطن د ملت د هویت یوه نه جلاکېدونکې برخه ده. د خاورې د سرحداتو ساتنه چه اولس د هغه په دننه کې ژوند کوي او د بهرني اشغال، نامطلوبو مهاجرتونو او د بهرنیو د ناوړه نفوذ او مداخلو په وړاندې ساتل کېږي.
- څلورم: وروستي خصوصیت د ملي حاکمیت مسئله ده . ملتونه هڅه کوي پر خپل سیاسي برخلیک یا سرنوشت بشپړ کنټرول ولري او خپل مقدرات په خپله وټاکي. په نړیواله سویه حاکمیت په دې معنی ده چه یو ملي دولت


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

غواړي او هڅه کوي چه په خپلو کورنيو چارو او بهرني سياست کې د بهرنيو هېوادونو له لاس وهنو او مداخلو څخه په امان وي او مخنيوي يې وکړي.

د نشنليزم د پورته ذکر شويو خصوصياتو له مخې زه هم يو نشنليست يم او فکر کوم چه ډېر نور انسانان به هم همدا شان فکر کوي.

انسانانو د تاريخ په اوږدو کې تل له خپل قوم، عنعناتو او خپلې خاورې سره مينه ښودلې ده، خو نشنليزم د يوې مفکورې په توګه د اتلسمې پېړۍ په پای کې وپيژندله شوه. د نشنليزم د مبداء يا منشاء د پيژندلو يا پوهېدلو لپاره درې موډله يا (paradigm) وجود لري. د ازليت يا پريموردياليزم (Primordialism) نظريه وايي چه ملتونه تل موجود وو او نشنليزم يوه طبيعي پديده ده.

د اتنو سمبوليزم (Ethnosymbolism) د نظريې پر اساس نشنليزم يوه له شتابه ډکه ارتقايي پديده ده او د اولسونو او نيشنليزم په انکشاف کې د سمبولونو، اساطيرو او عنعناتو موجوديت ډېر مهم بولي او دريمه يې د مودرنايزيشن يا نوسازۍ تيوري (Modernization Theory) ده چه وايي، نشنليزم يوه وروستۍ اجتماعي پديده ده، چه د خپلې بقا لپاره د مدرنې ټولنې اقتصادي او اجتماعي جوړښتونو ته اړتيا لري.

همدا شان د ملت لپاره هم مختلف تعريفونه شته چه د نشنليزم بېلابېلو ډولونو ته لاره هواروي. قومي نيشنليزم (Ethnonationalism) ملت د ګډ قومي جوړښت، ګډو ميراثونو او کلچر له مخې تعريفوي خو مدني نيشنليزم (Civic Nationalism) د ملت تعريف د ګډ تابعيت، ارزښتونو او مؤسساتو له مخې کوي اود وطن دوستۍ يا (Patriotism) له مفکورې سره اړخ لګوي.

په عمل کې نشنليزم هم مثبت او هم منفي اړخونه لري. دا په دې پورې تړلې ده چې موږ هغه ته له کومې زاويې يا په کوم کانتکست کې ګورو.

نشنليزم د هېوادونو د استقلال غوښتنې په مبارزو کې مهم رول لوبولی دی، د مثال په توګه د يونان په انقلاب کې يا د آيرلينډ په انقلاب کې. همدا شان نشنليزم د شوروي اتحاد په راپرځولو کې هم مهم رول درلود، خو برعکس په نازي جرمني کې افراطي يا راديکال نشنليستانو چه پر نژادي توپيراو تبعيض يې باور درلود او ځانونه يې تر نورو نژادونو لوړ او بهتر ګڼل، د ميليونونو يهودانو په قتل عام لاس پورې کړاو په دې توګه يې د تل لپاره د جرمني پر ملي تاريخ د يو ډېر ستر بشري جنايت تور داغ پرېښود چه هېڅکله به هم پاک نه شي.



د هاشم مهمند د نورو ليکنو لپاره، پر عکس کليک وکړی



برای ارسال مقالات به روی لينک ذيل کليک نمائيد!
info@arianafghanistan.com